# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**16سرطان_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه


بدخشان کې له ۱۸ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه ---------- 1
برای ۱۰ خانواده، در ولایت سرپل مساعدت شد ---------- 1
څه باندې زر تنه مهاجرین له پاکستان او ایران څخه راستانه شول ---------- 2
هشتمین نشست کمیته ادغام مجدد در ولایت جوزجان برگزارشد ---------- 2
ډوبلین کې د سرپناه کړکېچ: «موږ چېرته لاړ شو؟« ---------- 3
د بریتانیا په ټاکنو کې د کارګر ګوند بریا او د کډوالۍ په اړه د دوی پلانونه ---------- 11
انتقاد سازمان عفو بین المللی از بازداشت‌های غیرقانونی مهاجران در ایتالیا ---------- 14
یک نظر خواهی جدید: «اکثریت گسترده مهاجران از قاچاقبران استفاده می کنند« ---------- 16

# متن کامل اخبار

## بدخشان کې له ۱۸ کورنیو سره نغدې مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت




**په بدخشان ولایت کې د چنګاښ دیارلسمه ۱۸ کورنیو تهنغدي مرسته ووېشل شوه.**

**دغه کورنی وړاندې د بدخشان ولایت په مرکز کې د مهاجرینو چارو ریاست له لوري اړمنې پېژندل شوې وې، چې وروسته يې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ له لوري د ۱۷زره او ۷۵۰ افغانۍ مرسته ترلاسه کړه.**

## برای ۱۰ خانواده، در ولایت سرپل مساعدت شد

ویب سایت وزارت



برای ۱۰ خانواده در ولایت سرپل، کمک نقدی بتاریخ ۱۳ سرطان توزیع گردید.

خانواده های متذکره شامل برگشت کننده گان اجباری از کشور های همسایه بودند که از جانب اداره امور مهاجرین آن ولایت قبلاً شناسایی که پس از آن مبلغ ۲ هزار افغانی برای هر عضو خانواده از جانب امارت اسلامی با نظارت کمیته ولایتی و آمریت مهاجرین برای شان توزیع شد.

## څه باندې زر تنه مهاجرين له پاکستان او ايران څخه راستانه شول

د وزارت ويب سايت

يو زره او ۸۹۷ تنه افغان مهاجرين د چنگاښ پر ديارلسمه پخپله خوښه او په جبري توگه د نيمروز ولايت د ورېښم او د کندهار ولايت د سپين بولدک له لارې څخه خپل هيواد ته راستانه شول.

د کندهار ولايت د سپين بولدک له سرحدي آمريت څخه د ترلاسه شويو معلوماتو له مخې ۶۲ کورنۍ چې ۳۰۵ تنه کېږي له پاکستان څخه او په ايران کې مېشت يو زر او ۵۹۲ تنه د نيمروز ولايت د ورېښمو له لارې خپل هېواد ته راستانه شول.

راستانه شوي له نوم ليکنې وروسته د مرستو په موخه د مهاجرت نړيوال سازمان، د ملگرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ او د خوړو نړيوال سازمان دفترونو ته ورپېژندل شول او له هرې کورنۍ سره د اسلامي امارت له کړنلارې سره سم هلته په پولو کې مرسته هم وشوه.

## هشتمین نشست کمیته ادغام مجدد در ولایت جوزجان برگزارشد

ویب سایت وزارت



**هشتمین نشست کمیته ادغام مجدد ولایتی ولایت جوزجان بر ریاست مولوی نور الدین عمیر معاون والی و با اشتراک روسای ادارات ذیربط، مؤسسات ملی و بین المللی و بنیاد های خیریه در سالون جلسات آن ولایت به تاریخ ۱۳ سرطان دایر گردید .**

**ملا امان الله طلحه رئیس امورمهاجرین جوزجان ارقام عودت کنندگان که در این اواخر ثبت سیستم دیتابیس شده بیان و از کمک مؤسسات و بنیاد های خیریه سپاس گذاری نموده خواهان ادامه کمک های بیشتر نهاد های همکار برای عودت کنندگان و خانواده های که خانه هایشان درمسیر کانال قوش تخریب شده نیز گردید.**

**معاون والی از هماهنگی و همکاری ریاست مهاجرین و مؤسسات در قسمت رسیدگی به فامیل های متضرر اجباری سپاس گزاری نموده و خواهان ادامه آن شد.**

**در اخیر بحث روی سروی و نیازمندی های اولیه عودت کننده گان که در این اواخر از کشور های همسایه اخراج گردیده تبادل نظر صورت گرفت و تصامیم اتخاذشد.**

## دوبلین کې د سرپناه کړکېچ: «موږ چېرته لاړ شو؟»

مهاجرنیوز

**د ایرلنډ په پلازمېنه ډوبلین کې د سرپناه مسله د پناه غوښتونکو په یوه لویه ستونزه بدله شوې ده .ډېری هغه کډوال چې له بریتانیا څخه ځانونه ډوبلین ته رسوي د دولتي سرپناوو د نشتوالي له کبله د سړک پر غاړه شپې سبا کوي. که څه هم حکومت وايي چې د دې ستونزې د هوارولو لپاره يې يو شمېر اقدامات کړي دي، خو مدني فعالان بیا د سیاسي ارادې پر نشتون نیوکه کوي. له ډوبلین څخه ځانګړی راپور.**



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

کریم* د ډوبلین ښار په جنوبي برخه کې د خپلې خیمې مخې ته ولاړ دی او د اوبو کانال ته ګوري. دغه څلور دېرش کلن کډوال چې د بغلان ولایت اوسېدونکی دی وایي: «ملګري مې بازار ته تللي دي .تلیفون مې چارج خلاص کړی چې زنګ ورته ووهم.» کریم شاوخوا ۷ میاشتې مخکې له افغانستانه راوتلی دی او یوه اونۍ کېږي چې د ایرلنډ پلازمېنې ډوبلین ته رسېدلی دی. خو تر دې ځایه پورې یې سفر ساده نه و.

نومړي اووه میاشتې مخکې له افغانستانه په قانوني ډول روسیې او بېلاروس ته سفر وکړ او د بېلاروس او پولنډ په ځنګلي سیمه کې تر زیات انتظار وروسته بالاخره اروپایي ټولنې ته په رسېدو بریالی شو. خو دا یې د سفر پای نه و. هغه لومړی له فرانسې څخه د سمندر له لارې برېتانیا او ورپسې بیا له برېتانیا څخه ډوبلین ته راغی: «نه مې غوښتل چې برېتانیا کې پاتې شم: رونډا ته د استول کېدو له وېرې دلته راغلم«.

دغه ځوان مهاجر چې خپل مقصد ته د رسېدو لپاره له زیاتو سختیو سره مخامخ شوی دی وایي کله یې چې ډوبلین کې د پناه غوښتنه وکړه هیله یې درلوده چې سملاسي به سرپناه ورکړل شي او مشکلات به یې پای ته ورسېږي: «زه د زړه ناروغي لرم. دوه درې ورځې مخکې هم روغتون ته تللی وم .چارواکو ته مې وویل چې ناروغي مې جدي ده او دوی باید ما ته مناسبه سرپناه ورکړي. خو چا مې غوښتنې ته پاملرنه ونه کړه«.



کریم په ډوبلین کې د پناه غوښتنه کړې ده، د ۲۰۲۴ د جولای ۳. انځور: کډوال نیوز

**شپږو میاشتو کې شاخوا ۱۰ زره کډوال**

**په ډوبلین کې د سرپناه ستونزه نوې خبره نه ده، خو په تېرو څو وختونو کې دا مشکل نور هم جدي شوی دی. چارواکي د دې ستونزې لامل د راتلونکو کډوالو د شمېر زیاتېدل بولي. د ایرلنډ د مهاجرو چارو وزارت په وینا، د ۲۰۲۴ په لومړیو ۲۴ اونیو**

**کې تر ۹۷۰۰ زیات کډوال دغه هېواد ته داخل شوي او د سرپناه غوښتنه يې کړې ده (په اونۍ کې شاوخوا ۳۹۰ کسان). دا رقم د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۹ کلونو په پرتله پنځه چنده زیاتوالی ښيي.**

**د ایرلنډ د ماشومانو، برابرۍ، معیوبۍ، ادغام او ځوانانو وزارت پر خپل وبسایټ لیکلي دي، دمګړۍ دغه ارګان نه شي کولی چې د ځای د کموالي له امله ټولو پناه غوښتونکو ته سرپناه ورکړي. یاد وزارت په یوه <u>لیکنه</u> کې چې د ۲۰۲۳ د ډېسمبر په ۱۲مه خپره شوې او د ۲۰۲۴ د جولای په ۲مه اپډېټ شوې ده لیکلي دي چې یوازې اړمنو کسانو ته لومړیتوب ورکوي.**

**د يادې لیکنې پر اساس، د پناه غوښتونکو لپاره د مسکن چارو د ادارې کارکوونکي د بالغو نارینه و قضیو ته رسېدنه کوي او <u>که چېرې ځوک روغتیایي ستونزې ولري</u>، نو د معاینې او تشخیص لپاره به اړوندو ډاکټر ته راجع کېږي. خو هغه کسان چې له سرپناه څخه بې برخې پاتې کېږي، د حکومت له خوا له هغوی سره مالي مرسته (اونۍ کې ۱۱۳،۸ یورو) کېږي. د دغه وزارت له خوا خپرې شوې شمېرې ښيي چې د ۲۰۲۳ د ډېسمبر له ۱۲مې راهیسې د ۴۱۰۳ بالغو کډوالو له ډلې ۴۰۲ مستحقو کسانو ته سرپناه ورکړل شوې، ۳۷۰۱ تنه له دولتي مرستو برخمن شوي، ۱۴۷۳ کسانو ته له ځنډ وروسته سرپناه برابره شوې، او ۲۲۲۸ تنه نور لا هم د سرپناه په تمه دي.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**دغه کمپ د یوې خالي ودانۍ مخې ته جوړ شوی دی، د ۲۰۲۴ د جولای ۳. انځور: کډوال نیوز**

**ځلور ساعته پیاده مزل**

**مجید *او دوه نور کډوال د ماسپښین په شاوخوا ۳ بجو له بازاره بېرته کمپ ته راځي .که څه هم دغه افغانان وايي چې مثبت ځواب يې ترلاسه کړی، خو پر څېرو يې خوشالي نه ښکاري. مجيد خپل ملګري کريم ته وايي چې خپل ايمېلونه دې وګوري : »ځواب يې راکړ.. موږ ته په يو دولتي کمپ کې سرپناه راکړې ده، دا يې ادرس دی.« خو هغه پنډغالی چې کريم او ملګرو ته يې پکې سرپناه ورکړل شوې، يو ساعت او شل دقيقې په سرويس او ځلور ساعته پياده مزل ورته په کار دی.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**مجید وايي: «څنګه هلته لاړ شو؟ نه پوهېږم چې د سروېس تمځی چېرې دی. زه ټوله ورځ ګرځېدلی یم، نور نه شم کولی چې پیاده مزل وکړم«.**


**دغه دوه ویشت کلن افغان کډوال درې ورځې مخکې له برېتانیا څخه فرانسې ته رسېدلی دی. هغه چې په ۲۰۲۱ کې له افغانستانه راوتلی له یو کال څخه زیات وخت یې په فرانسه کې تېر کړی، خو هلته یې غوښتنه رد شوه. نوموړي بیا د انګلیس کانال له لارې برېتانیا او له برېتانیا څخه ځان ډوبلین ته ورساوه: «لندن کې د روندا ګنګوسې رواني وې. بله لاره نه وه را پاتې. نو ځکه ډوبلین راغلم. خو دلته هم د کډوالو ژوند له کړاوونو ډک دی: له مهاجرو سره ښه چلند نه کیږي، هېڅ ډول امکانات نشته، ژوند سخت دی. موږ چېرته لاړ شو؟«**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**د چارواکو له خوا دغو افغانانو ته يې استول شوی ايمېل، د ۲۰۲۴ د جولای ۳. انځور: کډوال نيوز**

**د لومړنيو اسانتياوو نشتوالی**

مدني فعاله ګرېن جونز چې د يوې غيررسمي ټولنې په چوکاټ کې له کډوالو سره مرسته کوي وايي: «زه فکر کوم حکومت غواړي کډوالو ته وښيي چې ايرلنډ له مهاجرو سره دوستانه چلند نه کوي، له همدې امله ورته سرپناه نه برابروي. موخه يې دا ده چې کډوال ډوبلين ته را نه شي.» دغه ايرلندی چې د ۲۰۲۳ په مارچ مياشت کې يې په فعاليت پيل کړی دی وايي د ګراند کانال په اوږدو کې د مهاجرو دغه کمپ »شاوخوا درې اونۍ مخکې جوړ شوی دی»، خو دا کومه نوې پديده نه ده.

هغه وايي: «تېر کال خلکو د پناه غوښتونکو ادارې مخې ته خيمې ترلې وې ځکه حکومت کډوالو ته د سرپناه ورکولو پروسه ودروله. دغه پروسه د ۲۰۲۴ په جنورۍ کې بېرته پيل شوه، خو څو مياشتې وروسته يو ځل بيا ودرول شوه. د سرپناه نشتوالی د کمپونو د جوړېدو اصلي لامل دی«.

نوموړې کمپونو کې د امکاناتو پر نشتوالي هم نيوکه کوي او وايي: «اوس هوا ښه شوې ده خو په ژمي کې خلکو په خورا سختو شرايطو کې تر خيمو لاندې ژوند کاوه. دلته مهاجر لومړنيو اسانتياوو لکه حمام او تشناب ته لاسرسی نه لري. د مدني ټولنې له فعالانو پرته څوک ورسره مرسته نه کوي.» دغه فعاله زياتوي چې ځينو کسانو ته له دوو درېو ورځو خو ځينو نورو ته بيا تر اونيو انتظار وروسته سرپناه ورکول کېږي.


د اوبو کانال ته نږدې د کډوالو خيمه، د ۲۰۲۴ د جولای ۳. انځور: کډوال نيوز



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**هغه وايي: «په ځينو مرکزونو کې وضعيت ښه نه دی. هغه پنډغالی چې دغو مهاجرو ته پکې سرپناه ورکړل شوې ده کروکسلبنګ کې موقعيت لري او سن بربج هوم نوميږي .دا مرکز غرونو ته نږدې موقعيت لري او کوټې نه بلکې خيمې پکې شته. موږ د دغه مرکز ويډيوګانې ليدلې چې ښيي هلته مشکلات ډېر دي«.**

**اوس د کريم موبايل پوره چارج شوی او هغه کولی شي چې خپل ايمېلونه وګوري. د پناه غوښتونکو ادارې دغه ناروغ مهاجر ته هم ايمېل کړی دی، نوموړی هم بايد هغه ادرس ته مراجعه وکړي چې په کروکسلبنګ کې موقعيت لري. کريم، مجيد او دوه نور افغانان خپل وسايل راټولوي او غواړي چې د شپې له را رسېدو مخکې ځانونه خپل نوي کور ته ورسوي.**

**مجيد وايي: «دغه خيمې همدلته پريږدو. هره ورځ دلته نوي مهاجر راځي. ښايي خيمې ته اړتيا ولري«.**

## د بريتانيا په ټاکنو کې د کارګر ګوند بريا او د کډوالۍ په اړه د دوی پلانونه

مهاجرنيوز




**وروسته له ۱۴ کلونو څخه د بريتانيا د کارګر ګوند د پارلماني ټاکنو په ګټلو سره د دغه هيواد واک په لاس کې اخلي. د پارلماني ټاکنو لومړنی پايلې چې د جمعې په سهار اعلان شوي د کارګر ګوند د ۴۱۰ څوکيو په ګټلو سره د دغو ټاکنو ګټونکی بلل کيږي . دغه ګوند په پام کې لري چې په نوي حکومت کې د کډوالۍ په سياست کې بدلونونه رامنځ ته کړي .**

**د ناقانونه افغان کډوالو بیرته نه استول**

د بریتانیا د کارګر ګوند مشر کیېر سټارمر په خپلو ټاکنیزو کمپاینونو کې هغه تورونه رد کړي چې ګواګي د هغه حکومت به د ناقانونه افغان کډوالو په اړه د افغانستان او ایران له حکومتونو سره خبرې وکړي. د کارګر ګوند مشر کیېر سټارمر د لومړي وزیر ریشي سوناک سره په یو ټلویزیون مناظره کې د خپل کمپاین پر مهال افغانستان ته د ناقانونه کډوالو د بیرته استولو موضوع رد کړې وه .بي بي سي د کارګر ګوند له خولې هغه مهال لیکلي و: «خو د افغانستان په څېر ځینې هېوادونه شته، چې نه شې کولای کډوال بېرته هلته ستانه کړې، د بېلګې په توګه هغه کسان چې ښايي د ژباړې برخه کې یې په افغانستان کې زموږ له سرتېرو سره مرسته کړې او ځان یې له خطر سره مخامخ کړی. خو یو څه چې نه یې شو کولای دا دی، چې په داسې یوه تشه کې پاتې شو، چې د دې خلکو [غیر قانوني کډوالو] شمېر ډېرېږي او د بریتانیا لومړی وزیر هېڅ حل نه ورته لري«.

**د روندا د پلان لغوه کول**

د کډوالۍ په اړه یوه مهمه موضوع چې څو میاشتې وړاندې د کارګر ګوند د مشر لخوا یې یادونه و شوه د روندا د پلان لغوه کول و. نوموړی دغه پلان له اقتصادي پلوه ډېر ګران او غیر موثر بولي. د روندا پلان له مخې د ریشي سوناک حکومت غوښتل هغه کډوال چې په وړو کښتیو کې بریتانیا ته په ناقانونه ډول تلل، روندا ته واستوي تر څو دغه افریقايي هیواد کې یې د پناه غوښتنې قضیې و څیړل شي.

د روندا پلان چې د بشري حقونو د سازمانونو لخوا تر نیوکې لاندې و، د پنځو کلونو لپاره یې لګښت ۵۴۱ میلیونه پونډ اټکل شوی و.




د
روندا پلان پر وړاندې په بریتانیا کې د کډوالۍ د ملاتړ سازمانونو لاریون. انځور: پیکچر الیانس

دا هم ولولئ
بریتانیا: روندا ته د کډوالو د استولو پر وړاندې اعتراضونه

د فرانسې او بریتانیا پر پولو کنټرول

که څه هم چې د کارګر ګوند د روندا د پلان لغوه کیدل غواړي خو د ناقانونه کډوالو په اړه پر خپل دریځ ولاړ دی. په بل عبارت دغه ګوند نه غواړي چې بریتانیا ته د ناقانونه کډوالی لاره پرانیزي.

نوی لومړی وزیر کیېر سټارمر په خپلو ټاکنیزو کمپاینونو کې د مې په میاشت کې ژمنه کړې وه چې د کډوالۍ د مدیریت لپاره به د انساني قاچاق سره مبارزه وکړي. د دغه کار لپاره هغه غواړي چې د روندا ۵۴۱ میلیونه پونډ بودیجه پر پوله د کډوالو د مخنیوي او د سرحدي امنیت د قومندانۍ جوړلو ته ځانګړې کړي. ښاغلی سټارمر ژمنه کړې چې په انګلیس کانال کې د انساني قاچاقچیانو مخه به ونیسي. نوموړی د انساني قاچاقچیانو په اړه ویلي: «مونږ به تاسو پیدا کړو، و به مو نیسو او ستاسو لخوا د قربانیانو ساتنه به وکړو«.

د بریتانیا نوی لومړی وزیر د دغو موخو لپاره به له فرانسې سره پر پوله کنټرول ډیر او انساني قاچاقچیانو سره به مبارزه چټکه کړي. نوموړی د مې په ۹ مه بریتانیایي رسنیو ته په دې اړه ویلي و: «زه به د[ MI5 استخباراتي اداره چې د هیواد د داخلي امنیت مسولیت لري] څخه کار واخلم ترڅو د قاچاقچیانو د شبکو په له منځه وړلو کې مرسته وکړي، چې د تروریستانو څخه غوره نه دي. موږ به له دغه نوي خواکونو څخه بانکي حسابونو ته د لاسرسي، د انټرنیټ کارولو څارنه او په شبکو کې د مجرمینو د تحرکاتو د څارنې لپاره وکاروو«.

له همدې امله د سلګونو اجنټانو استخدام چې د انسان قاچاق سره مبارزه کې تخصص لري، استخباراتي اجنټان، او د پولې هاخوا اضافي پولیس افسران تر مطالعې لاندې دي.

د کډوالۍ بله موضوع چې د کیر سټارمر لخوا وړاندیز شوې، له اروپایي هیوادونو سره د دوه اړخیز او نورو تړونونه دي چې غواړي د بریتانیا خاورې ته د کډوالو د ورتګ په شمیر کې کم والی راولي.

په وروستیو کلونو کې پاریس او لندن د ناقانونه کډوالۍ پر وړاندې د مبارزې په تړاو تړونونه زیات کړي دي خو کومه ګټه یې نه ده کړې او کډوالو په کښتیو کې دغه هیواد ته خپل سفر ته دوام ورکوي. د روان میلادي کال له پیل څخه له ۱۲ زرو څخه څخه ډیر خلک د انګلیس کانال له لارې بریتانیا ته رسیدلي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۱۸ سلنه زیاتوالی ښیي. د مړینو شمیر هم مخ په ډیریدو دی او د روان میلادي کال له پیل څخه ۱۶ کډوال د دواړو هیوادونو ترمنځ په سمندر کې خپل ژوند بایللی.

دا هم ولولئ
انګلیس کانال کې لږترلږه پنځه کډوال ډوب شوي دي

د پناه غوښتنې په سیستم کې اصلاحات

سربیره پردې، د کارګر ګوند پلان لري چې «د برتانیا د پناه غوښتنې سیسټم او قواعد بیا جوړ کړي». سلګونو ټولنیز کارکونکي به د یوې نوې ادارې لپاره وګمارل شي چې د پناه غوښتنې د چارو مسولیت به ولري. نوی لومړی وزیر د مې په میاشت کې اعلان کړی و: «موږ به هغه دود وساتو چې موږ به د هغو خلکو ساتنه وکړو چې د جګړو او ناوتریخوالو له امله خپل هیوادونه پریږدي«.



Website: https://morr.gov.af

Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

Facebook: https://www.facebook.com/morr.gov.af2

**د یو راپور له مخې چې د تیرکال د جون په میاشت کې خپرو شوی و، ۲۱۵ زره پناه غوښتونکي په بریتانیا کې د خپلو دوسیو خواب ته په تمه دي.**

## انتقاد سازمان عفو بین المللی از بازداشت‌های غیرقانونی مهاجران در ایتالیا

مهاجرنیوز




**سازمان عفو بین المللی با انتشار گزارشی می‌گوید که ایتالیا به گونه غیرقانونی مهاجران و پناهجویان را در مراکز بازداشت قرار می‌دهد و حق آنان برای پناهندگی و دسترسی به عدالت را نقض می‌کند .**

**در یک گزارش تازه که روز پنجشنبه ۴ جولای منتشر شد، سازمان عفو بین المللی نوشته است که »تعدادی از پناهجویان و مهاجران در شرایطی تحت بازداشت قرار گرفته اند که این بازداشت‌ها نه قانونی و نه ضروری بوده و نه هم قوانین و نورم‌های بین المللی را رعایت می‌کند«.**

**بر اساس گزارش، سازمان عفو بین المللی توانست در اپریل ۲۰۲۴ از دو مرکز بازداشت بسته پونته گالریا در روم و پیان دل لاگو در کالتانیسته بازدید کند که در آن‌ها مهاجران تونسی، ایرانی، گرجستانی، مراکشی، پیرویی، گامبیایی و چینی بازداشت شده بودند. در این دو مرکز مهاجرانی نگهداری می‌شوند که قرار است به کشورهای مبدا اخراج گردند.**

**در همین زمینه**
**بسته مهاجرت اتحادیه اروپا: نگرانی از «شرایط شبیه زندان» و استفاده از فن آوری های مجادله برانگیز**

**عفو بین المللی همچنین از مرکز ثبت نام یا هات سپات پوزالو در سیسیل بازدید کرده که در آن مهاجران هنگام ورود به ایتالیا تحت بررسی اداری قرار می‌گیرند و سپس به ادارت مسئول سپرده می‌شوند.**

رفتار غیرقانونی با مهاجران کشورهای «امن«

بر اساس گزارش، از آغاز سال ۲۶ هزار مهاجر وارد سواحل ایتالیا شده‌اند. از این رقم ۳۲۰۰ تن تونسی هستند که بعد از بنگله‌دیشی‌ها و سوریها، سومین گروه عمده مهاجران را تشکیل می‌دهند و سازمان عفو بین الملل نسبت به وضعیت آن‌ها اظهار نگرانی کرده است.

گزارش می‌گوید که مقامات ایتالیایی مهاجران تونسی را، به این دلیل که مانند مهاجران کشورهای دیگری چون نیجریا، الجزایر، سنگال، مراکش و ساحل عاج، از یک کشور «امن» می‌آیند، تحت بازداشت غیرقانونی قرار می‌دهند و خواهان انتقال اتوماتیک آن‌ها به مراکز بازداشت شده‌اند. با این که یک دادگاه ایتالیایی این درخواست را لغو کرده مقامات همچنان بازداشت‌های اتوماتیک را ادامه داده و مهاجران تونسی را، بعد از بررسی سریع در مراکز ثبت نام، به مراکز بازداشت بسته فرستاده‌اند .




مهاجران بازداشت شده در مرکز پونته گالریا همواره از شرایط رقت بار زندگی در این مرکز شکایت کرده‌اند. عکس: پیکچر الیانس

این در حالیست که تعدادی از مهاجران تونسی گفته‌اند که به دلیل گرایش‌های سیاسی یا جنسی خود تحت تهدید بوده‌اند.

خودکشی یک مهاجر گینه‌ای در بازداشتگاه پونته گالریا

بازداشت‌های غیرقانونی مهاجران از سوی مقامات ایتالیایی در گذشته نیز از سوی سازمان‌های غیردولتی و گروه‌های حقوق بشر مورد انتقاد قرار گرفته است.

در ماه اپریل، الئونورا چلوریا، وکیل و پژوهشگر در فوروم پژوهش های بین المللی و اروپایی (FIERI) در گفت‌وگو با مهاجر نیوز از شرایط نظارت و کنترول مهاجران بازداشت شده در بازداشت‌گاه‌های ایتالیا انتقاد کرد و آن را «از زندان بدتر» خواند.

**در همین زمینه**
**<u>بازداشت به قصد اخراج در ایتالیا: خشونت غیرقانونی برعلیه مهاجران</u>**

**در ماه فبروری امسال، یک مهاجر گینه‌ای ۲۲ ساله در مرکز بازداشت پونته گالریا خود را حلق آویز کرد. او قبل از مرگ روی دیوار سلولش نوشته بود که دیگر تحمل شرایط تحمیل شده را ندارد و می‌خواهد به کشورش برگردد.**

## یک نظر خواهی جدید: «اکثریت گسترده مهاجران از قاچاقبران استفاده می کنند«

مهاجرنیوز



**برای قاچاقبران فرار و مهاجرت یک کسب و کار پرسود باقی می ماند. این در حالی است که هزاران مهاجر و پناهجوی شرکت کننده در یک نظرسنجی می گویند که قاچاقبران در مورد مسیر سفر به آن ها عمدا اطلاعات نادرست داده اند.**

**براساس یک نظر سنجی، اکثریت پناهجویان و مهاجران در سراسر جهان از <u>قاچاقبران</u> استفاده می کنند. در این نظرسنجی ادامه دار که از سال ۲۰۱۹ توسط مرکز مهاجرت مختلط آغاز شد، بیش از ۶۰ درصد از شرکت کنندگان گفتند که دست کم در یک بخش از سفر از خدمات قاچاقبران استفاده کرده اند.**

**در همین زمینه**
**<u>بوسنیا: یک فرد مظنون به رهبری یک شبکه قاچاق مهاجران دستگیر شد</u>**

**روبرتو فورین، معاون مدیر مرکز مهاجرت مختلط روز پنجشنبه در مصاحبه با سرویس رسانه ای ادغام گفت، در میان مهاجران شرکت کننده در این نظرسنجی که به اروپا مهاجرت کرده اند، تعداد این گروه به ۹۰ درصد می رسد.**

**دو سوم از حدود ۴۰ هزار مهاجر و پناهجوی شرکت کننده این را تایید کردند که قاچاقبران به آن ها برای رسیدن به کشور مقصدشان کمک کرده اند. اما بیش از یک سوم از این افراد گفتند که قاچاقبران به آن ها در مورد مسیر سفر عمدا اطلاعات نادرست داده اند.**

**به گفته فورین، در این بین فرار و یا مهاجرت به یک پروژه درازمدت و چند مرحله ای تبدیل شده است و بیش از نیمی از پناهجویان و مهاجران در بین راه کار می کنند تا بتوانند ادامه سفرشان را تمویل کنند.**

**طبق اطلاعات سازمان بین المللی مهاجرت «آی او ام» شمار پناهجویانی که در نیمه نخست سال روان به اروپا رسیده اند در مقایسه با همین دوره در سال گذشته اندکی کاهش یافته است. در مجموع تا اوائل ماه جولای ۷۳ هزار و ۶۵۷ پناهجو و مهاجر به اروپا رسیدند.**

**در همین زمینه**
<u>نگهبانان مرزی فنلند دو قاچاقبر مهاجران را دستگیر کردند</u>

**به گفته «آی او ام» دلیل اصلی آن، کاهش شمار مهاجرانی است که از بخش مرکزی بحیره مدیترانه می آیند. براین اساس بیش از یک سوم از آن ها ۱۸ تا ۲۴ سال و ۳۰ درصد دیگر ۲۵ تا ۲۹ سال دارد. ملیت های آن ها به وضوح بسیار متنوع تر از گذشته می باشد.**